علامه عبدالحی حبیبی ۲۰۱۸/۰۱/۲۰

# بامی، بلخ بام بامیان

د وطن تاريخي ښار بلخ خو تر اسلام دمخه باختر بلل کېدی، چي ددې کلمې يوناني تلفظ باکتريا دی، اوډېر قديم شکلونه ئې : (بخت، بخد، باخدي) دي چي دغه اشکال هم اوستائی ګڼل کيږي. په اوستائي ژبه ددې کلمې ريښه دا حروف لري : (ب، ا، خ، د، ی) يا (ب ا خ د ر ی) چي هغه باخدي او باختر دی. ([1])

د ويدا داتهروید برخه هم ددغه نوم شکل بالهيکا راښئي، او وروسته د هندي آريانانو جنګي قصې لکه مهابهارت، هم ددغي کلمې شکل بلهيکا ضبط کوي، ډار مستتر فرانسوی محقق وايي : چي بلخ په پهلوي ادب کښي باخل Bakhl ليدل کيږي، او dh چي په بخدي کښي دی، په زند کښي په ql اوړي، په سنسکريټ کښي باهلي Bahli يا بالهي Balhi راځي. په اوستا کښي د بلخ صفت سريرا Srira (ښکلی) دی چي وروسته دا صفت په (بامی) تبديل سويدی، بامی هم (ځلاند ، ښکلی) معنا لري، چي په زند کښي ريښه باميا Bamya ده. ([2]) جيکسن معروف مستشرق ليکي : چي د اوستا يوه پهلوي نسخه په سمرقند کښي موندلې سوې او د اتم مسيحی قرن ده، هلته "بخل باميك" ددغه کتاب د اتم شاتروئيا کښي راغلی دی. ([3])

د لغوي ښېرني او فيلالوژی پر اصولو سم په دې خبره کښي هيڅ شك نسته، چي د ويدا پکهت او هم وروسته د يوناني هيروډوت پکت، دغه اوسنی پښتون دی، چي د بخت او بخد او باخدي او بالهيکا او باختر سره اساسي نژدېوالی لري، او دا ښکاره کيږي چي باختر، بخد او باخدي توله د (پکهت) او وروستي پکت او بخت او پښت او پښتون سره داسي لغوي قرابت لري چي د يوې کورنی کلمې بلل کيږي.

ددې لغوي ښېرني لمن خېره ده، او اوس ئې دلته ښه پلټنه نه کوم، ځکه چي زما د ليك مقصد بل دی، په اسلامي دوره کښي د بلخ د نامه سره بامی هم وينو، او لکه لوړ چي وويل سوه، دا نوم هم قديم دی.

د پارسو ادب په خورا زړو پاڼو کښي دا نوم وينو چي د بلخ سره دمضاف اليه يا صفت په ډول راځی مثلاً:

فرخي سيستاني ( متوفي حدود ۴۲۹ هـ ) وايي : ([4])

---

[1] - د اوستا فرهنگ ص ۱۱۰، د بمبئ طبع، ۱۹۱۰م

[2] - د زند اوستا فرانسوی ترجمه، ج ۱، ص ۸، نوټه ۱۴، د موزه ګيمه طبع ۱۸۹۲م

[3] - د زرواستر ښووني، ص ۲۷۱-۲۷۲ د دارمستتر او جيکسن څخه ياد داښتونه ښاغلي ګهزاد راکړي دي له ده څخه تشکر کوم

[4] - د فرخي ديوان، ص ۱۰۹ د تهران طبع



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

مرحبا ای بلخ بامی همرهِ باد بهار

از در نوشاد، رفتي يا زباغ نوبهار

حکيم اسدي طوسي په (٤٥٨ هـ) هسي وايي : (٥)

به فرخ ترين حال گيتي فروز

سپه راند از آمل شه نيمروز

سوي شيرخانه به شادي و کام

که خواني ورا بلخ بامي به نام

فردوسی طوسی د (٤٠٠ هـ) په حدود وايي:

سوی بلخ بامی فرستاد شان

بسی پند واندرزها داد شان (٦)

بل ځای وايي:

درم بسته از بلخ بامی برنج

سپرد ونهاديم يکسربگنج (٧)

انوری وايي:

"توان از بلخ بامی شد به بام مسجد اقصی"

علامه ابوريحان البيروني چي د غزنوي پاچهانو د زماني يو محقق مؤرخ او جغرافياوال دی، د (٤١٠ هـ) په حدودو د دنيا د مشهورو ښارو په ترڅ کښي د بلخ ذکر کوي، او وايي چي : "بلخ واسمهُ فی القديم بامی"(٨)

لکه لوړ چي مختصراً درښکاره کړه سوه، بامی تل دبلخ سره يو ځای راغلی دی، او موږ ته د استعمال له ډول او مورد څخه دا هم ښکاره کيږي چي بامی ددې ښار لقب ؤ، او يا ددې ښار په صفاتو او جغرافيوی اوضاعو اړه لري، چي قدماوو بامی بللی دی، حتي چي البيروني غوندي لوی محقق چي دده قول ټينګ سند ګڼل کيږي، هم وايي: چي پخوانو بلخ د بامی په نامه باله.

دپارسو ژبي د لغاتو پلټونکو او فرهنګ ليکونکو مم ددغي کلمي معنا لکه د استعمال له مورده چي ښکاره کيږي، ضبط کړېده، او زياتي د تسميي وجه او نور اطراف ئي نه دي ښکاره کړي مثلاً : يو فرهنګ ليکونکی د نورو د مخنيو په اقتفاء داسي

---

٥ - گرشاسپ نامه ص ٣٣٥ د تهران طبع

٦ - شاهنامه ج ٣، ص ١٢٨٥ د لوللرس طبع

٧ - شاهنامه ج ٦ ، ٤٨٢ د موهل طبع

٨ - قانون المسعودي ، ص ٤٣ د دهلي طبع

ليکي : " چي بامی د بلخ لقب ؤ، او تلفظ ئګی د راضي په ډول کيږي. (۹) د بامی کلمه چي سړی واوري، ژر ئي فکر د باميان خواته هم ځي، چي باميان هم يو تاريخي ښار دی، او ښايي چي د بلخ بامی او باميان ترمنځ يو تسميوي اشتراك وي (۱۰).

بعضي مؤرخين داسي هم ليکي: چي بلخ، بامی د بلخ باميان په نامه هم ذكر سويدی، بامی او باميان دواړه مشهور دي. (۱۱) زکی وليدي توغان چي د اسلامي اثارو او زړو کتابونو پيژندونی، او داستانبول د پوهنتون (دارالفنون) د تاريخ استاد اوپوهنوال دی، مه وايي : چي ښايي د باميان نوم له بامی څخه اخيست سوی وي، نو باميان بايد د "بلخيون" يعني د بلخيانو پـه معني وي، او ښايي چي د باميان ښار د بلخ دخلكو مستعمره وه. (۱۲)

لکه چي ددغو محقق تاريخ پوهانو رای چي ده بايد هم ضرور د باميانو نوم له بامی سره اړه ولري، ځکه چي دا دوه معروف او مشهور ښارونه هر وخت تر يوه اداره لاندي وه، يو ثقافت ئي درلود د يوه مدنيت مراكز وه نو ليري هم نه ده چي موږ د علامه زکی وليدی خبره ومنو، او د ګنج دانش پر روايت ويسا وکړو.

اوس چي تاسي ته تر يوې اندازې د بلخ بامی د نامه تاريخي او ادبي شهرت ښکاره سو، نو به د بامی کلمي شرح د پښتو ژبي له خوا هم لاندي وليکم چي دغه کلمه اصلاً پښتوده، او دا نوم هم پښتودی، د پښتنو په اسماء الرجال کښي موږ د بامی نوم اوس د يوه قوم په ډول وينو، باميزي د ابداليو له زيرك څخه د پوپلزو په ښاخ کښي يوه پښه ده (۱۳)، او ددې قبيلي افراد تر اوسه هم په قندهار کښي سته، د قندهار په اوسني ښار کښي يوه مخصوصه محله د باميزو کوڅه بلله کيږي ددې قوم په نامه. په دې ډول خو بامی يو علم يعني د سړی نوم دی، او موږ ته دا راښکاره کوي چي دا کلمه د نامه (اسم) په ډول زموږ په اسلافو او پخوانو کښي مستعمله وه او دوی بامی پر سړو نوم ايښو. که څه هم د علمي قانون له رويه اسماء او اعلام معلول په علت نه دي، مګر بيا هم د يوه علم اطلاق پر سړيو باندي بېله کومي نژدې يا ليري وجه تسميې نه وي، او کومه رابطه د اسم او مسمی تر منځ هم کله کله موجوديږي. که موږ دپښتنو اسماء الرجال او اعلامو ته ځير سو دا به را ښکاره سي چي ددوي په پخواني ژوندانه کښي د قدرت او طبيعت له مظاهرو سره رابطه ټينګه وه، يعني دوی د يوه نوم د ايښوولو پروخت د هغو شيانو نومونه اخيسته چي هغه شيان ددوي په حيات کښي داخل وه، او دا هم هغه د طبيعي محيط يو غير شعوري اغېزه ده چي پر ټولو مخلوقاتو باندي جاري ده. او په پاي کښي د اجتماعي پوهانو له خوا دغه د"قانون تطابق محيط" په نامه ياديږي.

ښه ! اوس به نو وګورو چي بامی د څه شي نوم وو، او له کومي خوا راغی چي د پښتنو په نوموکښي ځای ونيو. پښتانه د ګلانوسره ډېره علاقمندي لري او په دې غرو کښي طبيعي او غرني ګلان خورا ډېر کيږي، مثلاً : په پښتنو کښي جنډی خان، پوپل، ګلاب، غاټول او دغسي نور ډېر نومونه سته، چي هر يو د يوه ګل نوم دی.

بامی هم ددغه ډول نومونو څخه ګڼل کيږي، او اوس ښکاره اوڅرګنده او زباده سوې ده چي بامی هم د يوه ګل نوم وو.

---

۹ - فرهنګ نوبهار ج۱، ص ۹۸
۱۰ - فرهنګ انندارج ، ج۱، ص ۳۷۸
۱۱ - ګنج دانش ( تاريخي جغرافيا) ص ۱۴۴
۱۲ - د زکی وليدی حواشي پر قانون مسعودي، ص ۴۳
۱۳ - حيات افغاني، ص ۱۱۸

مثلا: شیخ السعد بن محمد سوري (متوفي ٤٢٥ هـ) چي د پښتنو یو خورا پخوانی شاعر دی، په یوه قصیده کښي وایي: (١٤)

نه غتول بیا زرغونیږي په لاښونو

نه بـامـی بیا مسېده کاه په کهسار

غتول یا غاتول یا ختول خو موږ پېژنو چي لاله دی، مگر بامی زه تراوسه نه پېژنم چي د کوم گل نوم دی، ښایي چي غتول د لاله عمومي نوم وي، او بامی ئي بیا مخصوص خاندان اوفرعي قسم وي.

موږ ته دا هم ښکاره ده چي په بلخ کښي د اسلام دمخه یو معبد ؤ چي نو وهار، نوبهار ئي باله، دا معبد خورا مشهور ؤ، لومړی ئي په زردشتي مذهب او بیا وروسته ئي په بودایي مذهب اړه درلوده، لوی لوی عمارتونه ئي درلودل، او جگي جنډۍ پر دې معبد ولاړي وې، له لیرو ځایو خڅه ئي خلك لیدلو ته ورتله، د مؤرخینو په قول ئي بیرغونه په ترمز کښي لیده کېدل دولس فرسخه لیري (١٥) که موږ په تاریخي سترگه وگورو ددې بیرغو آثار په خورا پخوانی زمانه کښي هم وینو، ځکه چي په اوستا کښي هم باخدی د جگو او لوړو بیرغو هیواد بلل سوی دی.

د گلانو استعمال او وجود د بلخ په نوبهار کښي هم له قدیمه څخه وو، ځگکه چي هغه معبد به هر کله په گلو ښکلی وو، حتي دا رسم اسلامي مؤرخینو هم لیدلی ؤ، یاقوت حموی چي خپل کتاب ئي تر ٦٠٠ وروسته کښلی دی، د عمر بن الارزق الکرماني په روایت لیکي: چي نوبهار په بلخ کښي یو مشهور او لوی معبد ؤ، چي هرکله به په حریر او نورو ښکلیو توکرانو پوښلی ؤ، او د هغه ځای د خلکو دا دود ؤ چي یوه نوې او ښه بناء به ئي جوړه کړه نو په گلانو به ئي پوښله او د پسرلي پر وخت به ئي لومړني گلان هم پردې نوبهار اچول، او د نوبهار پر شا وخوا لکه ښار ډیري ودانۍ وې، چي زایرین به هلته اوسېدل. (١٦)

د یاقوت له دې روایته ښه څرگندیږي چي په پخواني بلخ کښي نوبهار ؤ، او په نوبهار کښي دخلکو دا دود ؤ، چي په پسرلي به ئي دا خونه په گلانو پوښله، ځکه چي بامی په پښتو د گل نوم دی، اوبلخ هم بلخ بامیان یا بلخ بامی بلل کېدی، او ددغو گلانو استعمال د بلخیانو مذهبي دود او رسم ؤ، نو هیڅ لیري نه ده، چي بلخ په همدې سبب بلخ بامی ونومېدی، او تراوسه هم د گل سُرخ د پسرلي مېله په مزار شریف کښي جاري ده، چي اوس د حضرت علي (رض) په مُبارك مزار کښي کیږي.

د ادب اوبلاغت په علومو کښي دا خبره هم زباده سوېده، چي یو لغت د زماني د تېرېدلو او د محیط له گرزېدلو سره سم د معنی او استعمال له پلوه تطور مومی، مثلاً : له حقیقته مجاز ته گرزي، او ډیري نوي نوي تقریبي معناوي پیدا کوي.

د زړو آثارو په استناد د بامی معنی هم دوه احتماله مومي : لومړی دا چي دا د زاړه سریرا (ښکلی) پر ځاي په حقیقي مفهوم درېدلي وي، نو ئي معنا هم (ښکلی) دی.

---

١٤ - پټه خزانه ، قلمي ص ٢٠
١٥ - یاقوت، معجم البلدان ، ج ٨، ص ٣٢٠
١٦ - معجم البلدان، ج ٨، ص ٣٢٠

دوهم دا چي معنی ئې اصلاً يو ګل وي، ځکه چي د ګل اوښکليتوب تر منځ  يوه حقيقي او ازلي اوخلقتي او طبيعي علاقه سته، نو به وروسته د مجاز په ډول د (ښکلي او ځلاند) په معنی مشهور سوی وی.

په دواړو صورتو د بامی  کلمې اصل او ريښه په پښتو ژبه کښي سته، او لکه لوړ چي ذکر سوه، د پښتو بامی  او د بلخ بامی  او باميان تر منځ يوه ټينګه علاقه سته چي ما ئې بيان د تاريخي اسنادو په ويسا لنډ وليکی.(۱۷)

لمن ليکونه

۱۷ - کابل مجله، ۱۳۲۲ کال ۵ مه ګڼه، ۳۲ - ۳۳ مخونه